# قوم پرستي او خوشحال خان خټک یوه څېړنه

**Qadar Wahid(Samandar Yousafzai)***

**ABSTRACT.**

Nationalism is the love for one's nation and the willingness to defend it. Wars, though it might be harmful, it faster the spirit of unitary among the people. The moment there is a threat to the nation from an enemy, the patriotic and nationalistic feelings of the people are aroused for defending for its own nation. Khushal Khan Khattak was the first man in the history of mankind one who for the first time aroused great feeling of nationalistic fervor among the Pashtuns and tried to unite Pashtun under the one leadership against the successive aggression of great Mughal Empire. Nationalism is one of the noblest virtues. Khushal Khan Khattak was the pioneer who made attempts to eradicate the social problems by interjecting the spirit of nationalism among its nationhood. Nationalism stood in the eyes of Khushal KhanKhattak a tolls for the its nation final way of salvation against its foreign domination. This paper will shed lights through pragmatic and authentic examples that how Khushal Khan Khattak devotes its life to the idea of Nationalism among the Pashtoons first ever.

د انسان د اصل نسل په حواله که هر څو بېلې او مختلفې نظرئې په وجود کښې راغلې دي او په یوه نظریه لا اتفاق نه دے شوے. خو بیا هم دا خبره قابل اتفاق ده چې انسان د یوې ختې، رنګ او اصل نه جوړ دے او بیا وروسته د یو لوئې سفر نه پس دغه دیو نسل انسانان په مختلفو قبیلو او

* Ph.d Research Scholar, Department of Pashto, University of Peshawar

قومونو کښې تقسیم شوي دي او د ضرورت تر مخه ئې يو ټولنيز شکل اختيار کړے دے ـ ځکه چې يو شان خواهشات او ضروريات لري ـ د خپلو خواهشاتو او ضرورياتو تر مخه ئې د يو منظم رياست شکل د يو قوم په صورت کښې قايم کړے دے ـ د قوم تعريف جان ټي رورکي داسې کوي ـ

"A nation is a people who (a) Share demographic and culture similarities (b) possess a feeling of community (Mutually identify as a group distinct from other groups) and (c) want to control themselves politically. As such a nation is intangible; it exist because its member think it does,"[1]

ژباړه: کله چې انسانان په يو خاص سيمه کښې اوسيږي او د هغوئي يو جدا ثقافت، کلتوراو پيژندګلو وي او په سياسي توګه خپلې هلې ځلې کوي، قوم ورته وئيلې شي ـ

دغه شان د يوې سيمې د خلقو مشترک خصوصيات داسې بيانوي ـ

"The similarities that a people share are one element that helps make them a nation. These similarities may demographic characteristic (such as language, race and religion), or they may be a common culture or shared historical experiences" [2]

ژباړه: د ژوند هغه شريک رنګونه چې خلق ئې د يو بل سره شريکوي د يو عنصر په توګه د يو قوم په راجوړولو کښې لاس کوي ـ دا شريک رنګونه ډيموګرېپک خصوصيات لري لکه (ژبه، قام او مذهب)، يا يو شريک کلتور او يا شريکې تاريخي تجربې وي ـ

ددنيا سياست په مختلفو طريقو او حوالو روان وي او د يو رياست او شريک ژوند تېرولو تيګه ږدي ـ دغه رياست کله د يوې مخصوصې جغرافيې يا شريکو مفاداتو له خاطره د يو رياست شکل اختيار وي ـ او اولس د يو قوم د

مشترکه خاصیتونو او قدرونو نه یو راوچتوي او هم د هغې په ذریعه په یو قوم جوړوي۔ د یو قوم د ژبې، نسل، تاریخ او جغرافې سره سره مذهب هم د یو قوم د وجود او کلتور حصه وي۔ چونکې مذهب د انسانانو تر مېنځه یو داسې مشترک قدر دے، چې د هغې نېغ په نېغه تعلق د عقیدې سره وي او په عقیده انسانان سرونو ورکولو ته تیار وي۔ ځکه انسانان په دې نورو اقدارو مذهب له ترجیح ورکوي او د یوې بلې ژبې، نسل، کلتور وګړي له د مذهب د شریکوالي له خاطره د ورور حېثیت ورکوي۔ او شریک منظم ژوند تېرولو ته غاړه ږدي۔ د مذهب نه علاوه د یوې جغرافیې یا د برابرۍ په بنیاد هم ریاستونه او حکومتونه د انساني ژوند د ښېګړې دپاره په وجود کښې راځي۔ که یو اړخ ته حکومتونه او ریاستونه د یو ضرورت تر مخه قائمېږي نو بل خوا د تورې او طاقت په زور هم حکومتونه چلېږي او وګړي د طاقت، مذهب او یا د قومیت د یو بل عنصر له وجې خاموشه وي۔ خو کله چې ددغې راټول شوي خلقو تر مېنځه د جبر، ظلم، استحصال هوا راوالوځي او د خپلو حقونو حاصلولو یا د بل د حقونو تروړلو هڅې پېل شي او په کوم غېر فطري مزي چې راټول شوي وو هغهوشلېږي نو په بشپړه توګه د قومیت نغارهووهلې شي۔ د سیاسیاتو لغت د قومیت یا نشنلیزم تعریف داسې کوي۔

> "Nationalism is the political belief that some group of people represents a natural community which should live under one political system, be independent of others and often has the right to demand an equal standing in the world order with others. Although some time a genuine and widespread belief, especially under conditions of foreign rule, it is equally often a symbolic tool used by political leaders to control their citizens. Nationalism has always been useful to leadersbecause by stressing national unity and harboring on threats from those who are clearly, foreign or different internal schemes can be papered over, or otherwise unpopular policies can be executed." [۳]

ژباړه: قام پرستي يو داسې سياسي نظرئې ته وئيلے شي د کومې په ذريعه چې يو قوم په فطري توګه په يو سياسي وحدت کښې راجمع کولے او د بل قوم نه آزادولے شي ـ او دغه رنګ د نورو قومونو سره په يو صف کښې اودرولے شي ـ کله چې بېروني قوت په يو قوم قابض شي نو د قوم سر لښکر د قوم پرستۍ د نعرې په ذريعه مرسته حاصلوي ـ قوم پرستي هميشه مشرانو د سامراج او استعمار خلاف د يو قوم د راپارولو دپاره د يوې آلې په توګه استعمال کړې ده ـ ځکه چې دغه بېروني قوتونه خپلې منصوبې په قابض کړے شوي قوم باندې منل غواړي ـ

چونکې قوم پرستي يا Nationalism يوه سياسي نظريه ده او ددې په زريعه يو قوم د نورو قومونو سره د برابرۍ او سيالۍ په چوکاټ کښې دننه ژوند تېروي، که هر څو مذهب د يو قوم په ژوند کښې زوراور او مهيم کردار لوبوي مګر د يو قوم په اجزاء کښې نه شامليږي ـ ځکه چې د يو قوم بنياد ژبه، يا نسل او يا وطن وي ـ

"لغوی اعتبار سے قوم کا لفظ وطن کی بنیاد پر یا نسل کی بنیاد پر اور زبان کی بنیاد پر استعمال کیا جاتا ہے۔ اور قرآن کریم میں بھی اسی معنی میں آیا ہے۔ چنانچہ حضرات انبیاء کرام علیہ السلام اپنے لوگوں کو یا قوم یا قوم کہہ کر خطاب فرماتے رہے ہیں۔ حالانکہ وہ کافر لوگ تھے۔ اس سے معلوم ہوا کہ لغوی اعتبار سے قوم کسی نسل یا وطن کی بنیاد پر ہی بنتی ہے۔ جس میں مسلم اور غیر مسلم سب شامل ہو سکتے ہیں"[۴]

"هر هغه څوک نيشنالسټ دے چې د خپل ملت او هيواد د خوشحالۍ له پاره کار کوي، د نورو د زور او ظلم څخه ئې ژغوري او يا ورته آزادي اخلي ـ دغه هلې ځلې که اقتصادي،

سیاسي او مذهبي بڼه ولري نو په ساده ژبه دې عمل ته نشنلیزم وئېل کیدائې شي. هر هغه څوک چې د نشنالیزم او نسل پرستۍ تر نوم لاندې نور قومونه لوټي او تباه کوي د دوئي کلتور، اقتصاد، ژبه او پېژندنه دمینځه وړي. دې عمل ته Negative Nationalism وئیل کېږي." [۵]

د یو قوم یا قومیت د مزکوره عناصرو په هنداره کښې چې مونږ پښتون قام ته ګورو نو د نړۍ په سطح راته د یو قوم په حواله منفرد او ځانګړے په نظر راځي. ځکه چې د پښتون قوم ژبه، نسل، تاریخ، کلتور، مذهب او جغرافیه په بشپړه توګه شریکه ده او پښتانه هم په دغه وجه په نړۍ کښې په یو قوم پېژندے شي. پښتنې خاورې وخت په وخت داسې اتلان زېږولي دي چې د دنیا تاریخ ئې په خپله لمن کښې خوندي ساتي.

په دغه اتلانو کښې خوشحال خان خټک یو داسې ځانګړے ښکاره نوم دے چې تقریباً نیمه پېړۍ ژوند ئې په عملي سیاسي مبارزه کښې تېر کړے دے. ډېرې تودې سړې ئې لیدلي دي د ډېرو کامیابیو او ناکامیو سره مخ شوے دے. د مغلو د خدمتونو په لړ کښې د پښتنو په سرونو او لاشونو تېر شوے دے. خو بیا یو داسې وخت هم راغلے دے چې د پښتون قوم په ننګ ئې توره تړلې ده او د مغلودښمني ئې په سر اخستې ده. مغل ئې مغل او پښتون ئې پښتون قوم ګڼلے دے. ځکه چې هر څوک د خپلې ډلې مرسته کوي، خپله ډله او ټولنه ئې پېژندګلو او شناخت وي.

که هندو که مسلمان دے
پت پالي د خپل فریق [۶]

کشکے ځوان د پښتنائه په ننګ کښې مړ وے
نۀ چې ګور لره روان شوله تولتکه

چــې د قــام پــه ننــګ کښــې ومــړ هغــه زويــه
پــه عــالم کښــې د خپــل پــلار غــاړه کــا لکــۀ[۷]

د خوشحال خان خټک د فکر و عمل نه څرګنده ده چې په خپل مذهب اسلام کلک ولاړ دے او د اسلام د تعليماتو نه جوته ده چې ټول مسلمانان ورونړه ورونړه وي او د اسلام د بادشاه اطاعت په اولس فرض وي ـ خو بيا هم ددې هر څه باوجود خوشحال خان خټک د يو مسلمان بادشاه د بادشاهت په دوران کښې د بغاوت بيرغ پورته کوي او د مذهب په ځائې د قوميت نورو عناصرو له ترجيح ورکوي ـ د قوميت تاريخي پس منظر ته که مونږ پاملرنه کوؤ نو د ټولې نړۍ مختلفو قومونو په مختلفو وختونو کښې د خپل قوم د امتياز او لوړوالي نعرې وهلي دي او خپل ځانونه ئې اوچت ګڼلي دي ـ خو د جديدو اصولو او تعريفونو په رڼا کښې خوشحال خان د قوميت په حواله وړومبي ګامونه پورته کړي دي ـ

" خوشحال خان خټک د نړۍ وړومبے انسان دے چې د قام پرستۍ تصور ئې نړۍ ته وړاندې کړے دے ـ نړۍ د قام پرستۍ تصور د فرانس د انقلاب نه ماخوذ ګڼي، ولې خوشحال خان خټک د فرانس د انقلاب نه نزدې يوه پېړۍ مخکښې تش دا نۀ چې د قام پرستۍ تصور ئې وړاندې کړے دے، بلکې د قام پرستۍ د عناصرو په بنياد ئې عملي مبارزه هم کړې ده ـ " [۸]

خوشحال خان خټک چونکې د اباؤ اجدادو له خوا د مغلو يو خدمتګار راروان وو، د دوئي د کورنۍ نه علاوه نور پښتانۀ هم د مغلو په خدمت کښې بوخت وو ـ اګر چې مغلو د اسلام په نوم حکومت نه وو قبضه کړے ـ البته مسلمانان وو، بلکې هندوان ئې هم په خدمت کښې شامل وو ـ

مغلي حکومت په یوه مخصوصه علاقه قایم شوے وو او مختلف قومونه پکښې د خپلو مفاداتو د سیورې لاندې شامل وو ـ داسې د قوم او قومیت بلکې د مذهب په چغه نۀ وو یو ځاے شوي ـ مغلو د تورې په زور حکومت قایم کړے وو او د منصبونو او خلعتونو په وجه ئې برقرار ساتلے وو ـ

اګر چې خوشحال خان خټک که هر څو دپلار نیکه له وخته د مغلو د مفاداتو او سیاسي وجوهاتو په وجه د مغلو نوکر راروان وو خو هغه د مغلو مرسته کول خپله د مسلمانئ فریضه ګڼله او په دې جواز ئې تابعداري کوله چې د مسلمان بادشاه اطاعت کول په مسلمان فرض وي ـ خو ډېر زر ورته د اورنګزېب مسلماني معلومه شوه او د بادشاه د اطاعت کولو نه انکاري شو ـ

اطاعت د اوللعمر ځکه نۀ کړم
چې بادشاه د زمانې په زړه کافر دے[۹]

خوشحال خان خټک د اورنګزیب په بادشاهت کښې زندان ولیدو، مصیبتونه او تکلیفونه ئې وزغمل ـ د هغوئي د ارادو او منصوبو نه خبر شو نو خپلې ارادې او منصوبې ئې پرېښودې ـ د مغلو خلاف ئې توره پورته کړه ـ د هغوئي د مرستیالو مخالفت ئې پېل کړواود افغان په ننګودرېدو ـ

د افغـــان پـــه ننـــګ مـــې وتړلـــه تـــوره
ننګیـــالے د زمـــانې خوشـــحال خټـــک یـــم[۱۰]

د مغـل منصـب مـې پرېښـو هسـې خـوښ یـم
لکـــه خـــلاص د لویـــه بنـــده بنـــدیوان شـــي
دا نـــــادره عقیـــــده لکـــــه زمـــــا ده
لاعجـــب کـــه بـــل پیـــدا هســـې افغـــان شـــي

و مغــل وتــه بــه هســې کــار ښــکاره کــړم
چـې راضـي راشـي روح د فريـد خـان شـي [۱۱]

د خوشحال خان خټک بغاوت او د قوميت يعني نشنلزم نظريه وړاندې کول او عملي او سياسي مبارزه کول کۀ هر څو د ذاتي تربګنۍ او دښمنۍ پېداوار دے خو د اورنګزېب شخصيت او کردار هم داغدار دے ـ د هغه منافقت او زور ظلم دنيا ته ښکاره دے ـ د اورنګزېب عالمګير په حواله دوه قسمه متضاد خيالات عام دي ـ د يو قسم خيالاتو او تاريخ دانانو په خيال اورنګزېب عالمګير يو سوچه او کره مسلمان او په اسلام مئين بادشاه وو ـ د هر قسم عياشۍ ، بې حيائۍ او غېر اسلامي کارونو سخت مخالف وو ـ او په دغه حواله هغۀ په ظاهره داسې اقدامات هم کړي وو چې يوه لويه ډله ئې ستائي ـ

" اسلام د سرکاري مذهب په حېث په صحيح ډول هيڅ مغل بادشاه په دور کښې نه وو روزلے شوے ـ د اورنګزېب په وختو کښې اګر چې د حالاتو د تقاضو په سبب اسلام ته دغه حېثيت ورکړے شوے وو ـ ولې په دې کښې د اخلاص نه زيات مصلحت وو ـ " [۱۲]

خو د يوې بلې ډلې په خيال اورنګزېب عالمګير دغه هر څه د خپل اقتدار دپاره کول او د اسلام او مسلمانۍ د سيوري لاندې ولاړ وو ـ دغه هر څه په منافقت اړتيا لري ـ ځکه چې هغۀ داسې ډېرغېراسلامي او غېر انساني کارونه کړي وو چې د هغې اجازت د دنيا يو مذهب هم نه ورکوي ـ د اورنګزېب عالمګير په شخصيت کښې که هر څو مذهبي رجحانات وخت د سر نه جوت وو خو بيا هم د يو انسان په حيث د هغه په لمن د مينې، شرابو او موسيقۍ رنګونه راښه پراته دي ـ چې وروسته دغه رنګونو د هغه د دوه رنګۍ په وجه د

داغونو شکل اختیار کړے دے. په دغه حواله په هغه پسې یوه مشهوره واقعه څه په دا ډول ده.

اورنګزېب د برهان پور په باغ کښې د زېن آبادي نومي سندرغاړې په نازو ادا دومره زیات مئین شوے وو چې د هغې په وېنا ئې یوه ورځ په شرابو څښلو هم ناراستي نه کوله او په خپلو لاسو به ئې هغې له شراب ورکول چې د هغې د مدهوشۍ نه خوند واخلي دا خبره د شاهجهان تر غوږو هم ورسیده اکثر به داراشکوه د خپلو سیاسي ګټو حاصلولو په توګه پلار ته د ده دغه منافقت وریادولو[۱۳]

اګر چې دا قسم کار د مغلو د بادشاهانو او شهزادګانو په حواله څه ناشونے نهٔ وو. خو دې خبرې له دومره هوا د اورنګزېب د ظاهري تقویٰ او پرهیزګارۍ په وجه ورکړے شوه.

ددېنه علاوه چې بیا وروسته هغه د تخت حاصلولو پورې د وینو په کومو لارو تېر شو د ورونړو او ورېرونو سره چې هغه کوم سلوک وکړو. د وژلو نه مخکښې چې ئې د هغوئي کوم تزلیل وکړو. خصوصاً د خپل ورور مراد بخش سره چې ئې کومه وعده خلافي وکړه او د وژلو په صورت کښې چې ئې ورسره کومه رویه اختیار کړه او په اخر کښې چې ئې د شاه جهان په شان پلار قېد کړو دغه رویه د یو زوي، د یو ورور، د یو تره د شان سره نه ښائي[۱۴]

د پلار مرتبه هغه د سیاست په چپو کښې لاهو کړې ده او بله لویه خبره دا ده چې یو خوا ئې تاج و تخت په کومه بې ایمانۍ دهوکه، فرېب او ظلم تر لاسه کړے دے نو بل خوا ئې خپل پلار زندان ته غورزولے دے او بیا هم په ځان د محي الدین نامه ږدي چې د منافقت، دوه رنګۍ او مصنوعیت مثال نه لري.

دغه منافقت ئې رعيت هم خپل کړے دے ځکه چې ددغې مذهبي ظاهري شان و شوکت په وجه خو هغه سياست کوي او خپل بادشاهت له طول ورکوي.

يا د خپل اولاد د لاسه شاه جهان زده
يا خوشحال دے په فرياد په ناره سر[15]

شاه جهان غوندې بادشاه په بند بندي کړي
په اورنګ باندې خطاب د محي الدين بړدے[16]

قيامت دا هسې رنګ نه وي
چې زوے ئې بادشاهي کا پلار ئې ناست بنديخانه[17]

اطاعت د اولوالامر ځکه نه کړم
خليفه د زمانې په زړۀ کافر دے
پلار ئې ووژه په بند ورونه په توره
په ازادو مومنانو بهادر دے
د چا زړۀ به ځنې روغ په دنيا نه وي
د خوشحال خټک چې چاؤ د ځنې خاطر دے[18]

د اورنګ بادشاه په دور رسم دا شو
چې هر زويه د خپل پلار د سر مشتاق دے[19]

د دغه مذکوره ټولو واقعاتو په تناظر کښې د خوشحال خان خيالات د صداقت په کنډه پوره خېژي.

را معلـوم شـو د اورنـګ عـدل و انصـاف
دده ښـــه مســـلماني ښـــه اعتکـــاف
ســـکه ورونړـــه وار پـــه وار واړه وژلـــي
پـلار پـه بند کښـې اچـولے پـه مصـاف [۲۰]

خوشحال خان خټک د اورنګزېب ظاهري مسلماني د منافقت سره تعبيروي ـ ځکه چې په ښکاره اورنګزېب د اسلام بيرغ پورته کړے وو ـ خو په باطن کښې هغسې نه وو، لکه څنګه چې ښکارېدو ـ اګر چې که هر څو په مغلي دوره کښې اورنګزېب د اسلام او مسلمانۍ سره مخلصه وو خو هغهٔ د خپل بادشاهت تر وړاندې غير اسلامي کارونه هم کول او په لاشونو هم تېرېدو ـ

افـــرين دے پـــه انصـــاف د عـــالمګير
چـــې پـــه دا هنـــر کښـــې نـــه لـــري نظيـــر
نـه پـه غـلا نـه پـه رهـزن نـه پـه پاسبان دے
څوک دي وي چې ئې کېښيوځي په زنځير [۲۱]

اورنګزېبـــــــه بـــــــې دليلـــــــه
پـــه ظـــاهر بـــاطن عليلـــه
پـــه تســـبو کښـــې دي بـــلا ده
هـــې توبـــه ســـتا لـــه تهليلـــه [۲۲]

وخـــــــت داورنګشـــــــاه دے
د هـــــر چـــا تســـبې پـــه لاس دي
خـــــدائے ځنـــــې خبـــــر دے
پـــه اخـــلاص کـــه پـــه لبـــاس دي [۲۳]

خانــــان ئـــې واړه تـــلاوت خـــان کـــړه
د هنـــد هنـــدوان ئـــې دانشـــمندان کـــړه[۲۴]

د خپل زور ظلم په وجه د مغلو سره د ظلم او زیاتي اصطلاح مشهوره شوي وه ـ خوشحال خان خټک ظلم د مغلو سره تړلے دے او په عشقیه او قلبي وارداتو کښې هم مغل نه هیروي ـ

کـــه پـــه اصـــل پښـــتنهٔ د هندوســـتان ئـــې
دا د ظلـــم خـــوئي دې ذده کـــړ د مغلـــو[۲۵]

پښـــــتنهٔ ئـــــې پـــــه نـــــد جهـــــل
ســــــتمګره تـــــر مغـــــــل ئـــــې[۲۶]

په دې خبره کښې هیڅ شک نشته چې خوشحال د قوم پرستۍ بیرغ خالصتاً د اورنګزیب د حکومت د ظلم او ناانصافۍ له وجې پورته کړے وو او چې کله پرې په خپله تیره شوه نو بیا ورته پته اولګیده چې نه خو اورنګزیب پښتانهٔ د اسلام په وجه خپل وروڼه ګڼي او نه د پښتنو سره د برابرۍ سلوک کوي ـ ځکه چې کله د خوشحال ذهن په خپله رڼا شو او د مغلو د رویو نه په بشپړه توګه خبر شو نو بیا ئې نور پښتانهٔ هم خبرول غوښتل او د مغلو په ضد ئې راپاڅول ـ خو چې پښتنو بیا هم د مغلو منصبونه نهٔ پریښودل نو د هغه په ردعمل کښې تریخوالے هم په نظر راځي ـ

لیـــــوني شـــــول پښـــــتانهٔ پـــــه منصـــــبونو
خدایـــه مـــا ژغـــورے لـــه هســـې غضـــبونو
پښـــتانه لـــره لـــوئې عیـــب دے کـــه ئـــې ګـــورے
چـــې نـــازیږي د مغـــل پـــه لقبونـــو[۲۷]

پښتانهٔ لکه مګس وربانــدې ګرځي
ورتــه ایښــې د مغــل د حلــوا تــال دے[۲۸]

پښتون مغل بـه سـره دوسـتان نـهٔ شـي
خوشحال ئې مــه وينــه دا اکرامونــه[۲۹]
پښتانهٔ پــه عقل پوهــه څــه نـاکس دي
کوټـه سـپي د قصابانو د جـرس دي
بادشاهي ئې د مغل پـه زرو بائيلـه
د مغل د منصبونو پـه هـوس دي[۳۰]

د خوشحال خان خټک زړهٔ د پښتنو په بې شرمۍ او بې ننګۍ درد ېږي ـ عمر له د منصب په اضافو وریسے شوي وي ـ ګنې هر کار د مغل نه د پښتون ښه دے خو بې اتفاقي او ناهلان دي ـ ټول هندوستان هم د دوئي وو خو که دغه څو خامۍ ئې نه لرلې ـ

نـهٔ ئـې ننـګ شـته نـهٔ ئـې شـرم
څـه نـابود دي دا سـګان
زه پــه ننـګ د پښتانهٔ يـم
دوئـي نيـولي مغـلان
د منصـب پــه اضـافو دي
تـل پــه مـا پسـې روان[۳۱]

نـن بـه درست د هندوستان دولت د دوئـي وه
پښتانهٔ کـه کـم همت نـه وے جهـال[۳۲]

پښتـــــانۀ لـــــره شــــړې انـــدېرے ښـــــه دي
نــــۀ اغوســـــتے د مغــــل د مجـــــرے شــــال[۳۳]

خوشحال خان خټک د پښتنو په حواله ژبه ترخه استعمال کړې ده او د دغې تريخوالي په شا داسې وجوهات وو چې د هغې په وجه ئې د ډېره سوخته او غمه د غصې اظهار کړےدے.

"خوشحال بابا د نورو ګڼو خصوصياتو لرلو سره سره يو پښتون قوم پرست رهنما وه. هغه ته د پښتنو هره چار د نورو خلقو د چارو نه غوره ښکارېده. هغه د پښتون په هره ادا کښې يو بې بدله عظمت ليدۀ. هغه ته په پښتنو کښې هغه ټول صفات ښکارېدل د کومو په وجه چې هغوئې ته په دنيا باندې د حکمرانۍ کولو حق حاصل دے." [۳۴]

هــــره چـــار د پښـــــتانۀ تــــر مغــــل ښــــه ده
اتفــــاق ورســــــره نشــــــته ډېـــــر ارمــــــان
کـــــه توفيـــــق د اتفــــاق پښــــتانۀ مـــــومي
زوړ خوشــحال بــه دوبــاره شــي پــه دا ځــوان[۳۵]

پښــــتانه کــــه بــــل څــــه فکــــر کــــا ناپوهــــ دي
بـــې د تـــورې خلاصــې نشــته پــه بــل کــار[۳۶]

خوشحال خان خټک يوائې دا نۀ چې د مغلو له وجې ئې پښتون ته د قوميت نظريه وړاندې کړې ده، بلکې ددې نه علاوههم د هغۀ په قوم پرستۍ کښې هيڅ شک نشته. د قوميت د نورو اجزاؤ سره د هغه د مينې د اظهار نه اندازه لګي چې هغه کله هم د قوميت بيرغ پورته کړے دے نو بيا په دې پوهه

شوے دے چې پښتون ځانله بېل يو قوم دے۔ د پښتون قوم تشخص په خپله ژبه، کلتور، تاريخ او ثقافت کښې دے۔

"د کلچر يا ثقافت په اجزاء کښې ژبه يو ډېر اهم مقام لري۔ او د يو کلچر د محفوظ ساتلو او هغه ته دوام ورکولو د ټولو نه محکمه آله ده" [۳۷]

خوشحال خان خټک د خپلې پښتو ژبې د اهميت او د ژبې سره د خپلې رشتې ذکر بار بار کوي۔

فارســي شــعر مــې هــم ذده ســليقه لــرم د دواړو
پښتو شعر مې خوبن شو هر څوک خپل ګڼي ښاغلي [۳۸]

مــا خوشــحال چــې پــه پښــتو شــعر آغــاز کــړو
د پښـــتو ژبـــه بـــه اوس پـــه آب و تـــاب شـــي [۳۹]

پـــه پښـــتو ژبـــه چـــې مـــا علـــم بلنـــد کـــړ
د خبـــرو ملـــک مـــې فـــتح پـــه ســـمند کـــړ [۴۰]

چـــا ئـــې پلـــؤ د جمـــال وانـــۀ خســـت
پښـــــتو لاهســـــې بکـــــره پرتـــــه ده [۴۱]

کـــه د نظـــم کـــه د نثـــر کـــه خـــط دے
پـــه پښـــتو ژبـــه مـــې حـــق دے بـــې حســـابه
نـــه پخـــوا پکښـــې کتـــاب وو نـــۀ ئـــې خـــط وو
دا دې مـــا پکښـــې تصـــنيف کـــړل څـــو کتابـــه [۴۲]

پښتو د پښتنو ژبه ده او هم ددې ژبې په وجه پښتانۀ پښتانه دي۔ ځکه چې پښتو يواځې ژبه نۀ ده بلکې د پښتنو ضابطه حيات هم ده۔

خوشحال خان خټک يواځې د پښتو ژبې سره مينه او رشته نه لري، بلکې د پښتنو د خاورې سره هم مينه لري۔

"په جغرفيائي لحاظ په برصغير پاک و هند شمالي مغربي علاقې د بلوچستان د کويټې ډويژن او د افغانستان جنوبي مشرقي علاقې د پښتنو دي۔ چې په کوزه پښتونخوا، جنوبي پښتونخوا او بره پښتونخوا بللے شي۔ چې يو سر ئې د مغارد ے او بل ئې قندهار د ے۔"[۴۳]

خوشحال خان خټک دغه نقشه داسې راښکودې دي۔

سر ئې هورے قندهار بل ئې دمغار د ے
تر دا مينځ همه ميشته واړه عبس دي[۴۴]

درست پښتون تر قندهاره تر اټکه
سره يو د ننګ په کار پټ او اشکار[۴۵]

خوشحال خان خټک دغه مخصوصه جغرافيه د پښتون وطن ګڼي او ددغه ټول پښتون وطن سره بې کچه مينه او عقيدت لري ځائې په ځائې د خپل وطن سره د مينې څرګندونې کوي او د خپل ايمان حصه ئې ګڼي۔

د وطن مينه اے جانه
راپيدا ده له ايمانه
هغه ملک د زړه ارمان وي
چې پکښې دي ښه ياران وي

کــــه ئـــې ســـېږے وینـــې پـــه ســـترګو
هـــم ئـــې ځـــائے کـــوې پـــه ســـترګو
نـــــۀ د خپــــل وطـــــن خارونــــــه
نـــــه بــــل وطـــــن ګلونـــــــه[۴۲]

په خوشحال خان خټک خپل وطن بې کچه ګران دے۔ د وطن د هرې حصې د یادولو سره ئې زړۀ معطره کیږي۔ هغه که د کابل وي که د پښنور او که د اټک یا سرائے وي ۔ دغسې د پښتون په لیدو او یادولو ئې زړۀ ښاد او خوشحالیږي۔

هغــــه بــــاد چـــې کابـــل خېـــز دے
پـــــه مـــــا واړه عنبـــــر بېــــز دے
څـــوک چـــې یـــاد کانـــدي کابـــل
پــــه ګوګـــل مـــې شـــي غلغـــل
څـــوک چـــې یـــاد کـــا پېښـــور
زړه زمـــــا شـــــي منــــــور
څـــوک چـــې یـــاد کانـــدې اټـــک
قافیـــــه کـــــړم هـــــم خټـــــک
څـــوک چـــې یـــاد کانـــدي بـــل سـرائے
دمـــا یـــاد شـــي غـــه خپـــل سـرائے
چـــې پښـــتون راتـــه څـــوک یـــاد کـــا
پـــرې خوشـــحال شـــم زړه مـــې ښـــاد کـــا[۴۷]

خوشحال خان خټک محض د پښتنو او پښتون وطن سره مینه او عقیدت نه لري او نه یواځې په خپله ژبه خپل کلتور او تاریخ مئین دے بلکې هغه پښتون قام له د قوم پرستۍ یوه داسې سیاسي نظریه او پوهه ورکړه د څه

په سوب چې پښتون اولس په نړیوال کچ د خوشحالۍ او سیالۍ ژوند تر لاسه کولے شي۔

خوشحال خان خټک د خپلو تجرباتو او مشاهداتو په رڼا کښې خپل قام د مغلو د خدمت او نوکرۍ نه ژغوري ، دخپل زور او ارزښت نه ئې خبروي د بهلول او شېرشاه کارنامې ورته یادوي ، پښتون قوم ته په یو مرکز را غونډېدو درس ورکوي او ورته وائي چې ستاسو هر کار د مغلو نه ښه دے او که څه کمے لرۍ نو هغه د بې اتفاقۍ دے او که چرته تاسو دغه جهل پرېښودو نو هندوستان ستاسو دے۔ بیا به تاسو په خپله حکمراني کوئ۔ د مغلو د حلوه تال ته به نه ئې ناست ځکه چې د مغلو سره ستاسو یو مذهب قدر مشترک دے او د هغې باوجود مغل ستاسو استحصال کوي ځکه نو هغه پښتون قام، د ژبې ، نسل او وطن په بنیاد راټولوي۔ دغه د قوم پرستۍ او نشنلیزم د خپل نوعیت وړومبۍ نظریه ده، چې خوشحال خان ته ئې اعزاز حاصل دے۔ ورسته بیا نورې نړۍ ددغه قسمه قوم پرستۍ په بنیاد خپلو اولسونو له ازادۍ او خوشحالۍاوګټلې او اوس هم که پښتون په دغه نظریه عمل نه کوي نو ټول عمر به ئې په سټ د غلامۍ جغ پروت وي او ټول عمر له به د بل سترګو ته ګوري۔

# حوالې

[۱]RourkeJohn.T. International Politics on the World stage (Tenth Edition) Me Grans Hill Higher Education, New Yark ۲۰۰۵, Page: ۹۹

[۲]RourkeJohan.T. International Politics on the World stage, page No. ۱۰۰

[۳]David Rabertson, The penguin Dictionary of politics, London ۱۹۸۸. Page: ۲۲۵.

[۴]عثمانی, محمد تقی، مفتی, اسلام اور سیاسی نظریات، مکتبہ معارف القرآن کراچی، ۲۰۱۲ء، ص:۱۲۵

[۵] هيواد مل، زلمے سر محقق، فرهنګيالے خوشحال، د سيمنار د مقالو ټولګه، مقاله، علي خان مسود ، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، جرمني، ۲۰۱۰ء ، مخ: ۹۸

[۶]ختک، خوشحال خان، کليات، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند ، اداره اشاعت سرحد پېښور، دويم ځل، ۱۹۶۰ء، مخ: ۱۵۷

[۷]هم دغه، مخ: ۵۳۶

[۸] محب وزير،اصل مرجان،پښتو شاعرۍ کښې سياسي شعور،پي ايچ ډي مقاله ،پښتو

څانګه پېښور پوهنتون،۲۰۱۵ ، مخ: ۳۶

[۹]ختک، خوشحال خان، کليات، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند ، مخ:۴۰۲

[۱۰] هم دغه، مخ: ۵۶۶

[۱۱] هم دغه، مخ: ۶۱۲

[۱۲] ختک، راج ولي شاه ،ډاکټر، د پښتو ادبي تحريکونه، پښتو اکېډمي، پېښور يونيورسټي، ۱۹۸۹ء ، مخ: ۱۶۱

[۱۳] ازاد، ابوالکلام، غبار خاطر، خزینہ علم وادب اردو بازار لاہور، **۲۰۰۵**ء، ص: **۳۲۰، ۳۲۲**

[۱۴]. پریشان خٹک، پروفیسر، پشتون کون؟، اشاعت دوم، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی، ۲۰۰۵ء، ص: **۳۸۳، ۳۸۴**

[۱۵] ختک، خوشحال خان، کليات، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند ، مخ: ۵۲۹

[۱۶] هم دغه، مخ: ۴۵۶

[۱۷] هم دغه، مخ: ۸۲۸

[۱۸] هم دغه، مخ: ۴۰۲

[۱۹] هم دغه، مخ: ۳۷۱

[۲۰] هم دغه، مخونه: ۱۵۲، ۱۵۳

[۲۱] هم دغه، مخ: ۸۶۵

[۲۲] هم دغه، مخ: ۱۶۶

[۲۳] هم دغه، مخ: ۸۴۸

[۲۴] هم دغه، مخ: ۷۱۶

[۲۵]هم دغه، مخ: ۲۳۵

[۲۶]هم دغه، مخ: ۴۷۰

[۲۷]هم دغه، مخ: ۴۴۷

[۲۸]هم دغه، مخ: ۴۷۶

[۲۹]هم دغه، مخ:۲۴۷

[۳۰]هم دغه، مخ: ۳۴۰

[۳۱]هم دغه، مخ: ۵۸۴، ۵۸۵

[۳۲]هم دغه، مخ: ۵۴۵

[۳۳]هم دغه، مخ: ۵۵۰

[۳۴]خټک، خوشحال خان، دستار نامه، تحقیق، سمونه او حاشې، پروفېسر یار محمد مغموم خټک، یونیورسټي بک ایجنسي، خېبر بازار پېښور،۲۰۰۵ء ، مخ: ۹

[۳۵]خټک، خوشحال خان، کلیات، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند ، مخ: ۲۱۵

[۳۶]هم دغه، مخ: ۵۲۸

عبدالقادر، مولانا ، د فکر یون،دویم ځل، ترتیب، عبدالرحمان شباب ،یونیورسټي بک ایجنسي

[۳۷] خیبربازار پېښور،۱۹۹۷،مخونه:۲۶۷ ،۲۶۸

[۳۸]خټک، خوشحال خان، کلیات، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند ، مخ: ۶۲۳

[۳۹] هم دغه، مخ: ۴۴۲

[۴۰] هم دغه، مخ، ۵۳۳، ۵۳۴، ۵۳۵

[۴۱] هم دغه، مخ ۷۰۳

[۴۲] هم دغه، مخ: ۹۲۴

[۴۳] پروفېسر محمد نواز طائر، ترجمه، سید صفدر علي شاه، روهي ادب، پښتو اکېډمي پشاور یونیورسټي، ۱۹۸۷، مخ: ۲۴

[۴۴] خټک، خوشحال خان، کلیات، مرتبه دوست محمد خان کامل مومند، مخ: ۳۴۱

[۴۵] هم دغه، مخ: ۵۲۷

**۲۲**: خټک، خوشحال خان، مرتبه، همېش خلیل، فراق نامه، قامي مکتبه پېښور، ۱۹۸۳ء مخونه: ۶۵، ۶۶ [۴۶]

[۴۷] هم دغه، مخ: ۱۰۳، ۱۰۴، ۱۰۵